# د ورمونټ د موټر د څوکۍ قانون
# (VT CAR SEAT LAW- 2024)

**23 V.S.A. § 1258 CHILD RESTRAINT SYSTEMS (په موټر کې د ماشوم خوندي ساتلو سیستمونه) هغه کسانو لپاره چې عمر يې له 18 کلونو څخه کم وي**

هر هغه سپرلي کوونکی چې عمر يې له 18 کلونو څخه کم وي، باید په فدرالي توګه تایید شوي د ماشومانو د خوندیتوب داسي سیستم کې په سمه توګه خوندي کړل شوی وي کوم چې د دغه کس عمر او د بدن اندازې لپاره مناسب وي (پدې وسیلو کې د موټر پټۍ لرونکي څوکۍ، بوسټر څوکۍ، یا د بالغانو د سیټ بیلټ شامل دي).

ورمونټ (Vermont) په موټرو کې د ماشومانو د خوندیتوب اړوند قانون تعدیل کړی دی، کوم چې د 2024 کال د جولای 1 نېټې څخه عملي دی. دلته د نوي شوي قانون مهم ټکي دي:

- د **دوه کلونو څخه کم** عمر ماشوم باید په فدرالي توګه تایید شوي د موټر شاته-مخ لرونکي د ماشوم څوکۍ کې د پټۍ له لارې په سمه توګه خوندي کړل شي.
- یو ماشوم چې د موټر په شاته-مخ لرونکي څوکۍ کې ناست وي، باید د فعال هوايي کڅوړې (یعني ایئر بیګ) مخې ته سپاره نه شي.
- یو ماشوم چې **عمر يې له پنځو کلونو کم وي** باید په فدرالي توګه تایید شوي شاته-مخ لرونکي یا مخ ته مخ لرونکي د موټر څوکۍ کې د پټۍ له لارې په سمه توګه خوندي کړل شي.
- یو ماشوم **چې له اتو کلونو څخه کم عمر لري** او د موټر په پټۍ لرونکي څوکۍ کې په سمه توګه خوندي کیدی نه شي، باید په بوسټر څوکۍ کې په سمه توګه خوندي کړل شي.
- د **13 کلونو څخه کم عمر لرونکی** ماشوم باید، که ممکنه وي، په شاته څوکۍ کې سپور شي.

د دې قانون سرغړونه یو مدني جرم دی او تر $100 جریمه پورې د سزا وړ ده. دا ولې مهم دی؟ د ماشومانو په داسې موټر څوکۍ یا بوسټر څوکۍ کې په مناسب ډول خوندي کول، چې د هغوی لپاره مناسب اندازه لرونکي وي، کولی شي د خوندیتوب خطرونه تر 70% پورې کم کړي.

د اړوندو قوانینو په اړه د نورو معلوماتو لپاره یا د موټر څوکۍ مرستې د خپل ځایي سټېشن موندلو لپاره، beseatsmart.org وګورئ.

VERMONT DEPARTMENT OF HEALTH
AGENCY OF TRANSPORTATION

**BeSeatSmart.org**
**1-888-VMT-SEAT**

Be Seat Smart